مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر ګل مرجان منګل ۲۰۱۹/۱۱/۱۸

هیڅوک د بل چا رایه نه شي باطلولای!

د ټاکنو د کمسیون دا پریکړه چې په ځینو مرکزونو کې به بیا شمارنه کوي کوم بل هدف نه لري بدون له دې چې د هغه رایو شفافیت مالوم کړي د کومو چې اودوله، ګلبدین او نبیل دوي د هغه باطلول غواړي، هر څوک د یوې رایې حق لری باید د هر چا رایې ته احتر ام وشي.

کله چې ټاکنې تر سره شوې د ټاکنو مواد چې په هغوی کې د بایومتریک إلی هم شاملې وې مرکز ته د انتقال په وخت کې یې ځینې یا ورکې شوې، یا ماتې شوې او یا د ځینو الو څخه حافظې یا میموریګانی وباسل شوې.
د همدغه رایو صندوقونه د ټاکنو د خپلواک کمسیون له خوا کرنتین شول کرنتین پدې مانا چې د همدغه محلونو او صندقونو رایې به بیا څیړل کیږي که په شرایطو پوره وي نو سرور یا عمومي سیستم ته به یې شاملوي او که په شرایطو برابرې نه وې سیستم ته به یې نه شاملوي باطلې به وي.

کله چې د اودوله د بی ثباتی ټیم پوه شو چې رایې یې کمې دي په هیڅ وجه ټاکنې نه شي ګټلی هغه وو چې بدون له دې چې همدغه رایې وارضول شي د ټاکنو خپلواک کمسیون ته یې امر وکړ چې دغه کرنتین شوی رایې باید بدون له لدې چې بیا وشمارل او بیا و ارضول شي باطلې اعلان شي چې پدې مسله کې یې ګلبدین او نبیل هم د ځان سره ملګري کړل.

ګلبدین پدې خاطر ورسره ملګری شو تر څو هغه شرم چې خلکو کمې رایې ورکړې وي پدې ډول پټ کړي ولس ته ووایي چې که درغلي نه وای شوي نو ما خو ټول وهه یانې ټاکنې مې ګټلې پداسې حال کې چې د ولسي جرګې ته د ټاکنو په وخت کې یې زوي شل رایې هم نه وې وړي.

بل نبیل دی دی نبیل په خپل سر نه ټاکنو ته ولاړ دی او نه هم د اودوله او ګلبدین سره په خپل سره په یو سنګر کې د ولس پر وړاندې ولاړ دی نبیل پخواني مداري کرزي راپورته کړی د هغه کس دی چې څنګه ډوول ورته کرزی وهي نبیل همهغه ډول ورته ګډیږي.

راځم خپلې موضع ته چې هغه د همدغه کرنتین شوي رایو سرنویشت دی د کومو چې یا بایومتریک إلی ورکې،ماتې یا یې هم حافظې باسل شوي دي.

کله چې یو کس پدې سختو شرایطو کې د خپل سر په قیمت د رایو مرکز ته ځي ټول خطرونه په ځان مني نو بل کس څه حق لري چې د دوي رایې باطلې اعلان کړي.

د ټاکنو د کمسیون دغه کار یا پریکړه چې همدغه کرنتین شوي رایې چې په ټولو شرایطو پوره خو د بایومیتریک په الو کې په یو نه یو ډول ستونځې پیدا شوي له سره وڅیړي د ستایلو وړ دی باید ټول ولس یې ستاینه وکړي .
د کمسیون دغه بیا شمارنه څنګه تر سره کیږي او څنګه پوهیږي چې دغه رایې په ټول پوره دي؟ کمسیون چې کله شکمن مرکز ته ورځي په لاندې ډول د یوې رایې شفافیت یا عدم شفافیت تثبیت کوي.
د بایومیتریک د الې سره په خوا کې د ټاکنو مرکزي دفتر ته د رایو اچونکي لیست هم راځي نو کله چې د بایومتریک اله یا ورکه، یا ماته او یا یې حافظه نه وي کمسیون هغه لیست چې د همدغه الې سره یو ځای د ټاکنو له پای ته رسیدلو سره یو ځای راغلی، را اخلي د ځانه سره یې وړي په شکمن مرکز کې یې په لاندې ډول سپیناوی کوي:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لومړی:

ایا د ټاکنو څخه په وړاندې لیست کې فرض مثال احمد شته؟ هو یا نه،

دوهم:

ایا احمد د پیژند پاڼه سټیکر درلود؟ هو یا نه

دریم:

ایا احمد د رایې په ورکولو په ټولو شرایطو برابر وو؟ هو یا نه ایا په وروستي لیست کې چې د ټاکنو څخه وروسته مرکز ته راغلی د احمد نوم شته؟ هو یا نه ښه، که اوس په همدغه د احمد په مثال کې د ټولو پوښتنو ځوابونه هو وي او بایومتریک اله ورکه، ماته او یا یې میموري باسل شوي اوسي نو په کرنتین شوي صندوق کشي د احمد رایه باید حساب شي او که نه؟ زما په اند هیڅوک دا حق نه لري چې د احمد رایه باطله کړی ځکه احمد خطر قبول کړ د رایې مرکز ته لاړ خپله رایه یې په ټولو شرایطو پوره وکاروله دا چې د بایومتریک اله ورکه شوه، یا ماته شوه او یا یې حافظه وباسل شوه دا خو د احمد ګناه نه ده باید د احمد رایه حساب شي.

د ټاکنو خپلواک کمسیون وایي چې بلکل ورته د بایومیتریک رایې د منلو وړ دي خو کله چې د بایومتریک اله نشته پدې صورت کې کمسیون باید شکمن مرکز ته لاړ شي په همهغه ترتیب لکه احمد مو چې پورته مثال ورکړی وو پلټنه وکړي که د احمد رایه په همدغه ډول ثابته شوه یانې په لومړني لیست کې او وروستني لیست کې یې نوم وي او د رایې نور شرایط یې پوره کړي وي د چا پلار هم دا حق نه لري چې د احمد رایه باطله اعلان کړي.
ځکه خو موږ وایو چې اودوله، ګلبدین نبیل یا بل هیڅوک دا حق نه لري چې د چا رایې په خپل سر باطلې اعلان کړي .

د ټاکنو خپلواک کمسیون باید خپل کار ته په نورمال ډول دوام ورکړي شکمن مرکزونه چې د بایومتریک إلی ورکې، ماتې او حافظې یې باسل شوی دی له سره وشمارل شي او پلټنه یې وکړي که رایې په شرایطو برابرې وې نو مرکزي سرور یا مرکز ته یې داخلې کړي.

که څوک د ټاکنو د خپلواک کمسیون پر وړاندې خنډ او ځنډ جوړوي حکومت په ځانګړي توګه امنیتي ارګانونو ته په کار ده چې همدغه اوباشان، لنډغر، او شرار چې د قانون پر وړاندې بغاوت کوي ګرفتار د قانون منګولو ته وسپاري د جزا د قانون مطابق سخته جزا ورکړي.

ومن الله توفیق

ډاکټر ګل مرجان منګل

2019/11/18

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ